AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۲۵

# مینه لیک

## ۲

خورې او په ما ګرانې مریم!

زه وېرېږم، چې ستا هم هېر نشم.

وروستی لیک دې چې ما ته راغلی، د مینې هیڅ خبره پکې نه شته.
زه نه پوهېږم ولې؟

خو خلک هغسې نه پاتې کیږي، څه ډول یې چې اول وار وینو.

زه په دې هم نه پوهېږم چې څنګه؟

خو ادم زاد بدلون کوي او په ما کې یې زړه راښکون/ دلچسپي ورځ تر بلې ختمیږي.
تر دې چې یوه ورځ به د کلونو کلونو شناخته وګړي هم راته ووایي:

ته څوک یې؟

ایا موږ کوم وخت سره پیژندل؟!

زه به هیڅ و نه وایم او یوازې د لومړیو ورځو هغه شېبې به را یادې کړم، چې د یو بل په اړه مو له سلګونو ښو ګمانونو او خیالونو سره تېرولې.

غوښتل مو یو بل ښه وپیژنو.

خو د ښې پیژندنې ګټه څه شې شوه؟ همدا بې رخې او له یو بله مخ اړول؟

نو که داسې وي؛

سر له ننه د نویو ملګرو پیدا کولو ته هیڅ اړتیا نه لرم، ځکه دا ډېره دردونکې ده چې له هغوی هم ورو ورو هېر شم.

ما ته یو څه تلپاتې راوښیه!

لیک: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ